علمي- څېړنيزه مقاله
ISSN
P: 2788-4155
E: 2788-6441
د ترلاسه کولو نیټه: ۰۳/ ۰۲/ ۱۴۰۲
د منلو وروستۍ نیټه: ۲۵/ ۰۶/ ۱۴۰۲
OPEN ACCESS <https://ghalibqjournal.com/index.php/ghalibqjournal>
**DOI:** https://doi.org/10.58342/ghalibqj.V.12.I.3.2
صص: ۲۱-۳۳

# په کندهار پوهنتون کي د تازه کار استادانو د زده‌کړېزو ستونزو څېړنه له ۱۳۹۸ تر ۱۳۹۹

**څېړونکي:** پوهندوی دکتر قدرت‌الله نظري[1,*]، دکتر محمود ابوالقاسمي[2]

**لنډیز**

دا څېړنه د کندهار پوهنتون د تازه‌کاره استادانو د زده‌کړیزو ستونزو د څېړني او پیژندنی په موخه په ترکیبی کړنلاره ترسره شوي ده. د ډیټا د راټول په کېفي مرحله کي د نیمه جوړښت لرونکي مصاحبی په وسیله او په کمّی مرحلی کي د پوښتنپاڼی څخه په ګټه اخیستنه ترسره شوي دي. کېفي ډیټا د مضامینو د تحلیل په کړنلاره او کمی ډیټا د SPSS26 سافتویر څخه په ګټه اخیستنی د فریدمن د رتبه‌بندي د ټسټ په واسطه تحلیل شوي دي. د زده کړي په برخه کي د نظر وړ نمونی په اساس په یاده څېړنه کي د زده کړي ستونزه یوه لویه او عمده ستونزه ده، لاسته راوړنې ښیي چي د تازه کاره استادانو لپاره د زده کړي ستونزه یوه لویه ستونزه ده. چي څو داني یې په لاندي ډول دي: ۱. د زده کړي په برخه کي د تازه کاره استادانو تجربه نلرل؛ ۲. په ټولګی کي دننه د زده کوونکو د تعداد ډیروالی؛ ۳. د درسي منابعو کموالی او د لومړی لاس منابعو نه شتون؛ ۴. د نوي علم نه تولید ددي پخاطر چي معتبرو منابعو ته لاسرسي نلري؛ ۵. د تازه کاره استادانو لپاره کاری فرصت په نظر کي نه نیول.

**کلیدي ټکي:** د زده کړي ستونزي، ستونزي، تازه‌کار استادان، کندهار پوهنتون.



[1,*] د کندهار پوهنتون د ښووني او روزني پوهنځی، د پیدا ګوژی او اروپوهنی څانګی استاد، کندهار، افغانستان(مسؤول لیکونکی: qudrat_n231@yahoo.com)

[2] هم‌کار استاد، د تعلیمي علومو او اروا پوهنې پوهنځی، شهید بهشتي پوهنتون، تهران، ایران (mabolghasemi60@gmail.com)

این مقاله تحت مجوز بین‌المللی Creative Commons Attribution 4.0 International License ثبت می‌باشد.

Ghalib
Research Article
ISSN
P: 2788-4155
E: 2788-6441
Received: 26/ 04/ 2023
Accepted: 12/ 08/ 2023
OPEN ACCESS <https://ghalibqjournal.com/index.php/ghalibqjournal>
**DOI:** https://doi.org/10.58342/ghalibqj.V.12.I.3.2 PP: 21-33

# Examining the learning problems of new teachers in Kandahar University

**Authors:** Assistant Professor Qudratullah Nazari (Ph.D)[1*]
Associate Professor Mahmood Abolghasemi (Ph.D)[2]

## Abstract

This research has been conducted with the aim of researching and identifying the educational problems of new teachers of Kandahar University. In the qualitative phase of data collection, semi-structured interviews were conducted and in the quantitative phase, questionnaires were used. Qualitative data were analyzed by subject analysis procedure and quantitative data were analyzed by Friedman's rank test using SPSS26 software. Based on the observational sample in the field of education, in this study, the problem of learning is a big and important problem. The results show that the problem of learning is a big problem for new teachers. Some of them are as follows: 1) In the field of education, new teachers lack experience. 2) The increase in the number of students in the classroom, 3) The lack of teaching resources and the lack of first-hand resources, 4) They do not produce new knowledge because they do not have access to reliable resources, 5) For new teachers. Not considering the job opportunity.

**Keywords:** learning problems, problems, innovative teachers, Kandahar University.



[1*] Faculty of Education and Psychology, Kandahar University, , Kandahar, Afghanistan (corresponding author: qudrat_n231@yahoo.com)
[2] Associate Professor, Faculty of Educational Sciences and Psychology, Shahid Beheshti University, Tehran, Iran (mabolghasemi60@gmail.com)

This article is licensed under a Creative Commons Attribution 4.0 International License.

**۱. سریزه**

کوم استادان چې تازه د زده‌کړې چاپیریالونو کې، په خاص ډول په پوهنتونونو کې مقرر کېږي، امکان لري چې د تدریس، زده کړې، څېړني او سازماني اړیکو په برخه کې د ډېرو ستونزو سره مخامخ سي، چې د وخت په تیریدو سره کولای سي د کار کېفیت د کښته کولو او د سازمان د رسالت څخه د لیری تلو سبب هم سي. نو تازه‌کاره استادانو ته اړینې زده کړې ورکول د یوه سازمان د ارتقا او پرمختګ اصلی وسیله بلل کېږي؛ چې د هغه د جهت په اصلاح او د وضعیت په بهبود کې کلیدي رول لري. په دې اړه لومړنی ګام، د پوهنتونونو لپاره د خپلو تازه‌کاره استادانو د ستونزو پیژندګلوي ده، ترڅو د هغوي د ستونزو د حل لپاره د مناسب زده کړو برنامی عملی کړي او د تازه‌کاره استادانو په مخ کې چې کومې ستونزې پرتې دي، هغه لیري او استادانو ته د پرمختګ او ستونزي نه لرلو لپاره لاري هموارې سي (فتحی واجارګاه، ۱۳۹۱: ۴۹-۷۰).

د علمي کادر غړي د زده کړې په پروسه کې یو اساسي عنصر- شمیرل کېږي. په دې ډول چې ادعا کولای سو د استادانو موفقیت او لاسته راوړنه د زده کړیز نظام پر نورو برخو هم تأثیر لري او د هغو پر موفقیتونو او ناکامیو باندې هم تأثیر لري. بلدوین (۱۹۸۵) په دې باور دې چې، د علمي کادر غړي د هري پوهنتوني مجموعي حیاتي او ارزښت‌منده شتمني شمیرل کېږي. په دې سبب د هر پوهنتون کېفیت او ماهیت د هغه پوهنتون د استادانو د کېفیت په توانایی پوری اړوند دي، نو د پوهنتون لپاره ناممکنه ده، بیله دې چې په علم او پوهي سمبال استادان ولري ټولنی ته دې ښه خدمات او د انګېزی لرونکي د ټولنی غړي وړاندې کړي (حسینی شاوون او همکاران، ۱۳۹۱: ۴۹- ۶۴). د استادانو په وسیله د بیلابیلو رولونو لوبول یوي ځانګړې کړنلاری ته اړتیا لري چې بیله هغه زده کړه هیڅ اغیزه نسي- درلودلی. د زده کوونکو کلتوری او ټولنیزه روزنه، د پوهنتون د زده کړې د چاپیریال غنی‌کول او د پوهنتون اغیزمنه اړیکه د ټولنی سره هغه رولونه دې چې اغیزمن ترسره کولو لپاره‌یی باید د روزني مسلکي برنامی او د پوهی، مهارتونو او لیدلورو د پراخولو لپاره بې باید په پوهنتون کې د استادانو لپاره روزنیز پروګرامونه په لار واچول سي (بویر[۳]، ۱۹۹۰م:۸۰).

---

[3] . Boyer

د ۱۹۸۸ څخه تر ۲۰۰۰ کال پورې چې افغانستان د کورنیو جګړو شاهد وو، د معلوماتو پراساس په دې جنګونو کې یو ملیون وژل شوي، یو و نیم ملیون مهاجر، او نیم ملیون نادرکه، خپل وګړي د لاسه ورکړي دي. سربیره پر دي بې د زده کړو نظام په خاص ډول د لوړو زده کړو د سختو ستونزو سره مخامخ وو، چې د هغه ډلي څخه: د علمي کادر غړو تښتیدل، د درسونو رخصت‌کیدل او د افغانستان د پوهنتونونو ټوله مادي او معنوي شتمنی له منځه تللی وه. دا ستونزي د جګړې د کلونو وروسته د وخت د حکومتونو لخوا د کار په لومړیتوبونو کي راغلي، خو د هیواد پوهنتونونه لا هم د ګڼو ستونزو سره مخ دي چې له هغه ډلي څخه د تازه کاره استادانو نه آشنایی د زده کړي د نویو میتودونو، د معیاری زده کړي او څېړني د کړنلارو سره دي. ددې څېړني اصلي موضوع د تازه کاره استادانو د زده کړیزو ستونزو څېړنه ده، چې په ځانګړې ډول د کندهار په دولتی پوهنتون کي د تازه‌کاره استادانو د زده کړیزو ستونزو د څېړني په هدف ترسره شوي ده.

د تازه‌کاره استادانو د زده کړي ستونزي د افغانستان په پوهنتونونو یوه مهمه موضوع د ښووني او روزني په جریان کي ده او ډېری دا ستونزي چې منځ ته راغلی دي له هغو ډلو څخه: د تدریس په کړنلارو کي ضعف. د زده کوونکو سره د برخورد ډول، د درسي منابعو لیکنه او چاپ، د زده کړي مناسبي برنامي، د درسي ټولګي اداره، د درسي منابعو سره نه بلدتیا، نویو منابعو او تکنالوژی ته نه لاس رسي دي.

حکم‌آبادي په دې باور دي چې استاد د زده کړي د موخو په لاسته راوړلو او موفقیت لرولو کي اساسي رکن دي. استادان کولای سي د درسي کتابونو کي نقص او د زده کړیزو امکاناتو کم‌بود جبران کړي او یا برعکس د تدریس به‌ترینه موفقیت او د تدریس موضوع په نه توانایی سره د عاطفی اړیکو په منځته راوړلو سره غیر فعاله چاپیریال په فعاله چاپیریال بدل کړي (۵۰:۱۳۹۲ - ۵۱).

بنارپارت او هم‌کاران (۱۶۳-۱۴۳:۲۰۱۵) په یوه ساحوی څېړنه کی چی په کمّی او کیفی کړنلاره یی ترسره کړی ده د هغو کسانو په منځ چی تر پنځه کاله کمه کاری تجربه د زده کړی، څېړنی او خدماتو په اړه کی لری ترسره کړی. د زده کړی اړوند ستونزی داسی ډول مشخصی کړی چی د کار د حجم زیاتوالی، ناسمی غوښتنی په لږ وخت کی د ډېرو مسؤولیتونو ادا کول، د واقعی انتظاراتو څخه نه آګاهی د استادان د څېړنی او زده‌کړی ترمنځ د نه تعادل مسأله څېړل سوی ده.

## ۲. د څېړني کړنلاره

دا څېړنه په ترکيبي کړنلاره د انکشافي ډول څخه ترسره سوي ده، چې دوې مرحلې (کمّي او کېفي) دي. په لومړۍ سر کي مقدماتی مباحث د تازه‌کاره استادانو د زده‌کړي د ستونزو په اړه او د هغوي د وضعيت د څرنگوالی په‌خاطر ترسره شوي دي. وروسته بيا د کېفي کړنلارۍ په‌وسېله د پوهنتون رول د تازه‌کاره استادانو د ستونزو په حل کي، د پوهنتون د اداری او د بهرنيو اړخونو رول د برنامو په تطبيق کي تر څېړني لاندي نيول سوي دي. او په کمّی مرحله کي د کېفي لاسته‌راوړنو څخه په گټه اخيستنی سره د څېړونکي لخوا په جوړه سوي پوښتنپاڼه د تازه‌کاره استادانو په اختيار کي ايښودل سوي ده.

د څېړني گډون کوونکي، د نموني اخيستنی کړنلاره او د نموني حجم د ۱۳۹۸- ۱۳۹۹ کلنو کی. د حاضري څېړني په کېفي برخه کي ۳۳ گډون کوونکي شامل دي چي په کښی صاحب‌نظران. پوهان، د پوهنتون استادان، د پوهنتون اداره او تازه‌کاره استادان به هدف‌مند ډول د مرکي کولو لپاره ټاکل سوي دي.

د څېړني په کمّي برخه کي د کندهار پوهنتون تازه‌کاره استادان دي، چي تر لسو کالو لږ سابقه لري. زموږ آماری کمېت ۱۹۰ تنه تازه‌کاره استادان دي. چي د نموني حجم يې د مورگان د جدول په اساس ۱۲۲ تنه تازه‌کاره استادان دي. لاسته راغلی ډېټا د توصيفی او استنباطی آماری کړنلارو په‌وسيله تحليل سوي. په ياده څېړنه کي د نمونه اخيستنی کړنلاره تصادفی طبقه‌ای ده، چي د ټولو پوهنځيو څخه په بيلابيلو څانگو کي تازه کاره استادان ټاکل سوي دي.

## ۳. د معلوماتو د راټولولو ابزار

معلومات د دوو کړنلارو په وسيله په لاس راغلی دي:۱. د مخکښو او تجربه‌لرونکو استادانو سره مرکه او ۲. د تازه‌کاره استادانو څخه د نظر اخيستلو لپاره پوښتنپاڼه آماده سوي ده. پوښتنپاڼه دری برخی لري: د تازه‌کاره استادانو د فردي او شغلی معلوماتو برخه. دوهمه برخه کي تړلی پوښتنی د ځواب ورکوونکو د ليدلوری د معلوملو لپاره د تازه‌کاره استادانو د زده‌کړيزو ستونزو په اړه، او په دريمه برخه کي څو خلاصی پوښتنی د زده کړي د وضعيت په اړه د نوي زده کړيز نظام د پرمختگ او معياري کېدو لپاره په نظر کي نيول سوي دي.

په یاده څېړنه کي ډېټا په دقت سره کډګذاری او مضامین پـه اصلی- فرعی مقولـو ډلبنـدي ترسره سوي دي.

کومه پوښتنپاڼه چي د څیړونکي لخوا جوړه سوي ده. ٢٦ پوښتنی لـري چـي د لیکـرت د طیـف په اساس جوړه سوی ده (کاملاً مخالف یـم= ۱، مخـالف یـم= ۲، نظـر نلـرم= ۳، موافـق یـم=۴، کـاملاً موافـق یـم= ۵). د یـادي پوښـتنپاني د ثبـات لپـاره د څـو تنـو د رشـتی د متخصصـینو او صاحب ظرانو تایید اخیسـتل سـوي دي. او د یـادي پوښـتنپانی د اعتبـار لپـاره د کرونبـاخ د آلفـا د ضریب څخه ګټه اخیستل سوي ده. دي ضریب ته په کتو سره لاندي جـدول ګـی لـوړ متغیـر تـر ۰/۷ لوي دي. (۱ جدول)، یعنی دا چي پوښتنپاڼه د اعتبار څخه برخمنه ده.

۱ جدول: د کرونباخ د آلفا نتیجه

| د زده‌کړي ستونزي | آلفای کرونباخ | سوالانو تعداد |
|---|---|---|
| | ۰/۸۳٦ | ۲٦ |

## ۴. د معلوماتو د تحلیل او تجزیه کړنلاره

د څېړني په کیفي برخه کي د محتوایی تحلیل د کړنلاری څخـه د مرکـي د پوښـتنو د بـررسي لپاره کار اخیستل سوي دي.

په کمی برخه کي د دوو ډولو توصیفی او استنباطی آمارو څخه کار اخیستل سوي دي. پـه داسي ډول چـي لـومړی ډېټـا د پوښـتنپانو څخـه اسـتخراج سـوي ده، د توصـیفی کـړنلاری په‌وسېله معیاري انحراف او میانه – موډ – مډیان د متغیرونو په اړه کارول شـوي او وروسـته د استنباطي آمارو په برخه کي د فریدمن د رتبه‌بندي د ټېسټ څخه کار اخیستل سوي دي.

## ۵. موندنی

### ۵-۱. کېفي برخه

د مصاحبو څخه استخراج شوي معلومات په لاندي جدول کي ښودل سوي دي:

۲ جدول: د مصاحبو څخه استخراج شوي مضامین

| بعد | مضامین |
|---|---|
| د زده کړې ستونزې | د زده‌کړې په برخه کي د تازه‌کاره استادانو تجربه نلرل |
| | په ټولګی کي دننه د زده‌کوونکو د تعداد ډېروالی |
| | پر تازه‌کاره استادانو د درس د فشار زیاتوالی |
| | د زده کوونکو په ارزونه کي ستونزه او د معیاری تدریسي ټولګیو نه لرل |
| | کافی تجربه نلرل |
| | د آزموینو اخیستلو لپاره منظم میکانیزم نه لرل. |
| | د انګلیسي ژبی سره د استادانو نه آشنایی. |
| | د استادانو نه آشنایی د ارزونی د اصولو او قوانینو سره. |
| | د تازه کاره استادانو لپاره تر خدمت د مخکي زده کړو نه نوي کول. |
| | د درسي منابعو کموالی او د لومړی لاس منابعو نه شتون. |
| | د نوي علم نه تولید ددي پخاطر چي معتبرو منابعو ته لاسرسي نلري. |
| | د خارج خدمت زده کړو نه وړاندي کول ترڅو استادان له هغه څخه په خپله کاری برخه کي زده کړه وکړي. |
| | د تازه کاره استادانو لپاره کاری فرصت په نظر کي نه نیول. |
| | د رشتی مطابق د لارښود استادانو نه شتون د تازه کاره استادانو لپاره ترڅو هغوي په خپله برخه کي مناسبی زده کړي وکړي. |
| | د پخوانیو او تازه کاره استادانو ترمنځ د ارتباطی برنامو نه شتون. |
| | د تازه کاره استادانو د مسلکي او تدریس ودي لپاره د سیمینارونو نه شتون. |
| | تازه کاره استادانو ناآشنایی د تدریس د نویو کړنلارو سره. |
| | د زده کړیزی محتوا ناسم والی. |
| | د تحصیلی درجی د لوړولو لپاره د امکاناتو نه شتون. |

### ۵-۲. کمی برخه

د تر لاسه سوي ډیټا د تحلیل او تجزیه لپاره لومړی په توصیفی سطح کار سوي او آماری شاخصونه د متغیرونو د توصیف او تلخیص باندي کار سوي دي. تحلیلی آمار او د هغوي د اثراتو

د متغیرونو ترمنځ د فریدمن د رتبه‌بندي د ټسټ څخه د SPSS26 د سافت‌ویر څخه کار اخیستل سوي دي.

## ٦. د څېړني د توصیفی متغیرونو دیټا

۳ جدول: لاسته راغلی آمار د ټسټ د رتبه‌بندي په اساس

| | د فریدمن د ټسټ ارقام |
|---|---|
| تعداد | ۱۲۲ |
| خی دوه | ۳٤۰/۱٤۳ |
| د آزادي درجه | ۲٥ |
| د معناداری سطح | ۰/۰۰۰ |

د کای د مجذور څخه په لاس راغلی اندازه د ۳٤۰/۱٤۳ سره برابره ده. چي د خطا سطح یی تر ۰/٥۰ لږ ده نو ستونزه معنا داره ده. د فریدمن د ټسټ معناداره‌کیدل په دي منظور دي چي د تازه‌کاره استادانو په مخ کي د زده‌کړي ستونزه شتون لري او د استادانو فعالیتونه د ستونزو سره مخامخ کوي.

۴ جدول: د زده‌کړیزو ستونزو رتبه‌بندي

| درجی | |
|---|---|
| | اوسط درجه |
| د زده کړي په برخه کي د تازه کاره استادانو تجربه نلرل. | ۱۹/۳٥ |
| په ټولگی کي دننه د زده کوونکو د تعداد ډیروالی. | ۱۷/۳۸ |
| پر تازه کاره استادانو د درس د فشار زیاتوالی. | ۱٦/۸٦ |
| د زده کوونکو په ارزونه کي ستونزه او د معیاری تدریسي ټولگیو نه لرل. | ۱٥/٦۱ |
| کافی تجربه نلرل. | ۱٥/٥۷ |
| د آزموینو اخیستلو لپاره منظم میکانیزم نه لرل. | ۱٥/۱٦ |
| د انگلیسي ژبی سره د استادانو نه آشنایی. | ۱٤/۸٥ |
| د استادانو نه آشنایی د ارزونی د اصولو او قوانینو سره. | ۱٤/۰۷ |
| د تازه کاره استادانو لپاره تر خدمت د مخکي زده کړو نه نوي کول. | ۱۳/۷٦ |
| د درسي منابعو کموالی او د لومړی لاس منابعو نه شتون. | ۱۳/۷۲ |

| | |
|---|---|
| د نوي علم نه تولید ددي پخاطر چي معتبرو منابعو ته لاسرسي نلري. | ۱۳/۶۴ |
| د خارج خدمت زده کړو نه وړاندي کول ترڅو استادان له هغه څخه په خپله کاری برخه کي زده کړه وکړي. | ۱۳/۵۸ |
| د خارج خدمت زده کړو نه وړاندي کول ترڅو استادان له هغه څخه په خپله کاری برخه کي زده کړه وکړي. | ۱۳/۴۷ |
| د تازه کاره استادانو لپاره کاری فرصت په نظر کي نه نیول. | ۱۳/۱۸ |
| د رشتی مطابق د لاربښود استادانو نه شتون د تازه کاره استادانو لپاره ترڅو هغوي په خپله برخه کي مناسبی زده کړي وکړي. | ۱۲/۹۴ |
| د پخوانیو او تازه کاره استادانو ترمنځ د ارتباطی برنامو نه شتون. | ۱۲/۶۲ |
| د تازه کاره استادانو د مسلکي او تدریس ودي لپاره د سیمینارونو نه شتون. | ۱۲/۵۵ |
| تازه کاره استادانو ناآشنایی د تدریس د نویو کړنلارو سره. | ۱۲/۵۲ |
| د زده کړیزی محتوا ناسم والی. | ۹/۹۳ |
| د تحصیلی درجی د لوړولو لپاره د امکاناتو نه شتون. | ۹/۶۵ |

د پورته (۴) جدول نتایج ښیی چي د ځواب ورکوونکو له نظره تر ټولو مهم د زده کړي مشکل د تازه‌کاره استادانو د پوهی او تجربی نه‌لرل او کښته ترینه ستونزه بیا لوړو مقاطعو ته د تازه‌کاره استادانو تلل دي پورته ستونزي په جدول کي د ارقامو په ترتیب سره مشخصی سوي دي.

### ۷. مناقشه

په اوسنیو شرایطو کي افغانستان په ډېره تیزه توګه د توسعی، پرمختګ او لوړوالی فرصتونه د لاسه ورکوي. په تیرو ۲۰ کلونو په جریان کي د لوړو زده کړو په برخه کي ډېره ښه موقع په لاس ورغلی وه. خو دا تاریخی موقع د سنّتی افکارو، فکری انجماد او د هیواد د لوړو چارواکو د ناتوانی په سبب چي د ستراتیژیکو برنامو په برخه کي یې لري د لاسه تللی یا هم د لاسه د تلو په حال کي دي.

کومې درجه‌بندي چي د نړی د هیوادونو په پوهنتونونو کي ترسره کېږي، د درس او درسي موادو د کېفیت پر مشخصو معیارونو، د استادانو کېفیت د زده کړو او تجربو له نظره، د درسي برنامو لپاره مناسبه فضا او امکانات یوه بله برخه یې ده. کوم پوهنتونونه چي ددې درجه بندي په سر کي دي ډېر یې د آسیا د ختیځ او ځینی د اروپایی هیوادونو دي. یو له دي هیوادونو څخه چي د درجی‌بندي په سر کي دي د چین هیواد دي چي ۳۰۰۰ پوهنتونونه لري چي تر ۲۵ ملیونه ډېر

محصلان لري او د ۶۰۰ په حدودو کي پوهنتونونه يې بهرني محصلان مني. چين د نړۍ تر ټولو پخوانی او لوي د زده کړي نظام لري چي د ځينی ځيړونکو په وينا په چين کي د زده کړو مخينه ۱۶ پيړۍ ته مخکي تر ميلاد ګرځی (قاسمی و صالحی، ۱۳۹۶: ۸۱- ۱۰۳).

اسداللهی او هم‌کارانو (۲۰۱۹: ۹۰-۹۵) يو موډل تأييد کړي چي په کښي د پوهنتونی فضا نه توسعه يې اصلی محور دي. چي دا برخه همیشه په پوهنتونونو کي د ستونزو زيږونکي او رامنځ ته کوونکي دي. چي دا موضوع کولای سي په ډيری مواردو کي د انګيزی د له منځه‌تلو، د کيفيت کښته‌کيدو، د معاشاتو کموالی او د استادانو لپاره ناسم رفاهی وضعيت، د نظارت سم سيستم نه درلودل، د هم‌کارانو ترمنځ د تعاملاتو کمزوری او د علمي کادر د غړو نه شتون په تصميم نيولو کي د هغو ستونزو ښودنه ده چي پوهنتون او پوهنتونی نظام يې د ډيرو ستونزو سره مخ کړي دي. سربيره پر دي ځينی نور عوامل هم شتون لري چي چي د استادانو د پرمختګ لپاره خنډ ګرځی، په نورو برخو کي کار کول، د استادانو علاقه نه لري شامل دي.

ليما او هم‌کارانو (۲۰۱۶) په خپله څېړنه کي د مديريتی شايسته‌ګی په اړه چي مرکي يې د کالجونو د ريسانو سره کړي. دا نتيجه يې لاسته راوړی ده چي ډير لږ اندازه ريسان د موفقيت او شايسته‌ګی د لوړل، به‌ترينه موقع او فرصت د توسعه لپاره پرخپلو کړنو باندي پوهيږی او نورو ته ددي کار د ترسره کولو موقع ورکوي.

يونسکو (۲۰۱۳) په خپل ګزارش کي چي د افغانستان د لوړو زده کړو د وضعيت په اړه دي، ويل دي د افغانستان پوهنتونونه چي تر اوسه ندي توانيدلی پرمختګ وکړي يو دليل يي د غير متخصص رئيسانو درلودل دي. تر ټولو لوي دليل چي په دي ګزارش کي ويل سوي دي دا دي چي هر کال ډيره زياته بودجه د نړيوال بانک لخوا د افغانستان پوهنتونونو ته ورکول کيږي په خاص ډول د کابل پوهنتون ته، خو په دي دليل چي د پوهنتونو رئيسان ځانګړی تخصص نلري، په دي ندي توانيدلی له هغه څخه په سمه توګه ګټه واخلي او ډيري په داسي ځايونو کي مصرف سوي دي چي کارونه نلري. دا مطلب پر ټولو پوهنتونونو باندي صدق کوي، ځکه په ډيری برخو کي چي کومي پيسي راغلي د ضرورت وړ موضوعاتو باندي ندي لګيدلی او يا هم داسي شيانو باندي مصرف سوي چي هغه ټول استهلاکي شيان دي (لکه ميز، چوکي، فرنيچر او داسي نور...).

نو په دې سبب د اوسني وضعیت څخه د وتلو لپاره باید د هیواد علمي او اکادمیک مراکز اصلاح سي او په کښې یوه سمه خانه‌تکاني ترسره سي، ترڅو په سمه توګه ګمارنې وسي او مناسبې لاسته‌راوړنې هم ولري، که چیرې داسې ونه سي، نو پوهنتونونه به د یوې نوې غمیزې یا ستونزې سره مخامخ سي، چې په هغه وخت کې به بیا ستونزه نه جبرانیدونکې وي او فرصتونه به مو هم د لاسه وتلې وي.

د پورتنې څېړنې لاسته‌راوړنې هم کومې چې د تازه‌کاره استادانو د زده‌کړې ستونزې وي هغه کولای سي د ښوونې او روزنې پر نظام باندې اغیزې وکړي؛ ځکه که موږ پورته ستونزو ته توجو ونکړو، نو بیا به هم د ډېرو ستونزو سره مخ یو، چې هغه زموږ ښوونیز نظام ګواښې او په نهایت کې به د ښوونیز نظام د ماتې سره د مخامخ کېدو یا هم ماتې باعث سي.

## ۸. پایله

استادان د تدریس او زده‌کړې په برخه کافي تجربه نلري، او نشي کولای په سم ډول زده‌کوونکو ته د زده‌کړې پروسه آسانه کړي، ترڅو د دوې زده کوونکي وکولای شي په سم ډول سره مناسبه زده کړه وکړي او هم دوې په خپله دنده کې موفقیت لاسته‌راوړي نو په همدې اساس د تازه‌کاره استادانو د تجربه نلرل یو له لویو ستونزو څخه په دې څېړنه کې شمیرل کیږي. همدارنګه په ټولګیو کې دننه د زده کوونکو د تعداد ډېروالي هم یوه لویه ستونزه شمیرل کیږي چې د زده کړې او تدریس پر کیفیت باندې ډېر زیات منفي تأثیر کوي نو په همدې اساس د زده‌کوونکو د تعداد زیاتوالي یې باعث ګرځي چې په کندهار پوهنتون کې تازه‌کاره استادان د لویو ستونزو او ننګونو سره مخامخ کړي. سربیره پر دې تازه‌کاره استادان د درس د فشار زیاتوالي هم یو بل لامل ګڼل کیږي ځکه تازه‌کاره استادان تر اندازې زیات درسي ساعتونه لري چې دا خپل د ښوونې او روزنې پر کیفیت باندې منفي اغیزه کوي او هم د استادانو فعالیتونه ننګوي چې دا خپل پر تدریسې پروسه باندې ډېر زیات منفی تأثیرات کوي. په همدې اساس د معیاري تدریسي- ټولګیو نه لرل یوه لویه ستونزه شمیرل کیږي ځکه به اوسنیو شرایطو کې د تدریس او زده‌کړې لپاره مناسب درسي ټولګی او د هغه وړ امکانات شتون نلري چې په هغه کې د زده کړې پروسه په معیار او سم ډول سره مخې ته ولاړه سي. د پورته ستونزو په اساس تازه‌کاره استادان په کندهار پوهنتون کې

د ګڼو ستونزو سره مخامخ دي چي د دوی پر تدريس او زده‌کړه باندي يې ډېره منفي اغيزه کړې ده او هم يې کوي.

په دې څېړنه کي چي کومې ستونزې او محدوديتونه ذکر سوي دي له هغه ډلې څخه د پوهنتون د استادانو د بهسازی او ارتقا لپاره د يوه منظم مرکز نه‌شتون دی او همدارنګه د هغوی لپاره د مطالعاتو تجهيزات او امکانات نه‌لري، د استادانو نظرونه نه اخيستل په پريکړو کي او د نويو او پخوانيو استادانو ترمنځ يو ډول تبعيض شتون چي د امکاناتو څخه د ګټه اخيستني په برخه دي په عمومی ډول دا ستونزې مطرح سوي دي.

**ORCID**

**Qudratullah Nazari** **https://orcid.org/0000-0002-1510-4027**

**Mahmood Abolghasemi** **https://orcid.org/0000-0002-3296-7916**

**اخځليکونه**

۱. اسدالهی، فريدون، شاکری، محسن و برزگربفرويی، کاظم. (۱۳۹۸). «**فرايند شکل‌گيری چالش‌های توسعهٔ حرفه‌ای اعضای هيئت علمی در دانش‌گاه غزنیِ افغانستان**». ايران: فصل‌نامهٔ آموزش و پرورش تطبيقی. ۲(۳). ۳۶۲-۳۸۲. SID. https://sid.ir/paper/521808/fa

۲. حسينی شاوون، امين؛ جاهد، حسينعلی. (۱۳۹۱). «**شناسايی موانع انجام فعاليت‌های پژوهشی از منظر اعضای هيأت علمی دانش‌گاه تبريز**». ايران: مجلهٔ سياست علم و فنّاوری. ۴(۴). ۴۹-۶۴. SID. https://sid.ir/paper/133047/fa

۳. حکم‌آبادی، رجبعلی؛ فلاح، حسين. (۱۳۹۲). «**ويژه‌گی‌های استاد خوب از ديدگاه دانش‌جويان دانش‌کدهٔ بهداشت دانش‌گاه علوم‌پزشکی خراسان شمالی**». ايران: مجلهٔ توسعهٔ آموزش در علوم پزشکی. ۶(۱۰). ۰-۰. SID. https://sid.ir/paper/388923/fa

۴. فتحی واجارگاه، کوروش؛ آزادمنش، ناهيد. (۱۳۸۵). «**امکان‌سنجی کاربرد فنّاوری نوين اطلاعات و ارتباطات در برنامه‌ريزی درسی آموزش عالی**». ايران: مجلهٔ پژوهش و برنامه‌ريزی در آموزش عالی. ۱۲(۴). ۴۹-۷۲. SID. https://sid.ir/paper/67877/fa

۵. قاسمی، محمد؛ صالحی، کيوان.(۲۰۱۷). «**بررسی چالش‌های اعضای هيأت علمی جديد آموزش عالی ايران**». ايران: مجلهٔ آموزش عالی ايران. ۹(۲۷). ۸۱-۱۰۳.

6. Boyer,E. L.(1990). Scholarship reconsidered: Priorities of the professoriate. Princeton University Press, 3175 Princeton Pike, Lawrenceville, NJ 08648.

7. Beldon Scott, J. (1985). Paple patronage in the seventeenth century: Urbun VIII, Bernini, and the countess Matilda.
8. Bonaparte, I., Abbey, A., & Okoro, E. (2015). Challenges facing beginning Faculty in the 21st Century Higher Education: Evaluating Research Productivity, Teaching Effectiveness, And Service. International Journal of Academic Research in Progressive Education and Development, 4(1), 143 163. http://dx.doi.org/10.6007/IJARPED/v4-i1/1622 Educational commission of OECD. Quality and Internationalisation in Higher Education. Paris: OECD Publishing; 1999
9. UNESCO. Open and Distance Learning: Trend, Policy and Strategy Considerations. TabaeiAghdaei, trans. Tehran: UNESCO Publisher. 2005. P. 11-21.

**References**

1. Asdalahi, Fereydoun, Shakri, Mohsen and Barzgarbfaroui, Kazem. (2018). "Process of formation of professional development challenges of faculty members in Ghazni University of Afghanistan". Iran: Comparative Education Quarterly. 2(3). 362-382. SID. https://sid.ir/paper/521808/fa
2. Hosseini Shavon, Amin; Jahid, Hossein Ali. (2011). "Identifying the obstacles to conducting research activities from the perspective of faculty members of Tabriz University". Iran: Science and Technology Policy Journal. 4(4). 49-64. SID. https://sid.ir/paper/133047/fa
3. Hakkamabadi, Rajab Ali; Fallah, Hossein. (2012). "Characteristics of a good teacher from the point of view of the students of the health faculty of North Khorasan University of Medical Sciences". Iran: Journal of Education Development in Medical Sciences. 6(10). 0-0. SID. https://sid.ir/paper/388923/fa
4. Fathi Vajargah, Korosh; Azadmanesh, Nahid. (1385). "Feasibility of using modern information and communication technology in curriculum planning of higher education". Iran: Journal of research and planning in higher education. 12(4). 49-72. SID. https://sid.ir/paper/67877/fa
5. Ghasemi, Mohammad; Salehi, Kivan. (2017). "Investigating the challenges of the new faculty members of Iran's higher education". Iran: Journal of Higher Education of Iran. 9(27). 81-103.
6. Boyer,E. L.(1990). Scholarship reconsidered: Priorities of the professoriate. Princeton University Press, 3175 Princeton Pike, Lawrenceville, NJ 08648.
7. Beldon Scott, J. (1985). Paple patronage in the seventeenth century: Urbun VIII, Bernini, and the countess Matilda.
8. Bonaparte, I., Abbey, A., & Okoro, E. (2015). Challenges facing beginning Faculty in the 21st Century Higher Education: Evaluating Research Productivity, Teaching Effectiveness, And Service. International Journal of Academic Research in Progressive Education and Development, 4(1), 143 163. http://dx.doi.org/10.6007/IJARPED/v4-i1/1622 Educational commission of OECD. Quality and Internationalisation in Higher Education. Paris: OECD Publishing; 1999
9. UNESCO. Open and Distance Learning: Trend, Policy and Strategy Considerations. TabaeiAghdaei, trans. Tehran: UNESCO Publisher. 2005. P. 11-21.